

# د جنسي او جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالی په اړه معلومات

IOM UN MIGRATION

## زمونږ په اړه

د PROTECT پروژی موخه د جنسي او جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالی قربانيانو لپاره د ملي ملاتړ خدمتونو پياوړتيا ده. د PROTECT موخه دا هم ده چې دا خدمتونه مهاجرينو، پناه غوښتونکو او کډوالو ته چمتو کړي، که دوی ماشومان او يا هم لويان وي، د هغو خلکو په شمول چې د LGBTI په توګه پېژندل کيږي.

https://eea.iom.int/PROTECT-project

د اروپايي اتحاديې د حقونو، مساواتو او تابعيت برنامې لخوا تمويل شوی (2014-2020)

## په ياد ولرئ!

### SGBV ستاسو غلطي نه ده!

په ټوله نړۍ کې ډيری ښځې، نارينه، نجوني او هلکان په خپل ژوند کې د فزيکي يا جنسي ناوړه ګټه اخيستنې يا د SGBV نور ډولونه تجربه کوي. هرڅوک د جنسي او جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالی قرباني کيدلای شي.

### تاسو يوازې نه ياست! مرسته شتون لري!

داسې خلک شته چې تاسو سره مرسته کولای شي، لکه ډاکټران، د پوليسو افسران او ټولنيز کارکونکي. که تاسو د SGBV تجربه کوئ او يا مو تجربه کړی وي، نو يو داسې چا ته ووایاست چې تاسو پری باور لرئ او يا هم پورته ياد شوي سازمانونو سره اړيکه ونيسئ.

### مرسته وکړئ تر څو نور خلک هم خوندي پاتی شي!

که کوم څوک SGBV تجربه کوي او يا يې تجربه کړی وي او تاسو سره اړيکه نيسي، دوی ته غوږ ونيسئ او دوی ته يادونه وکړئ چې SGBV د دوی ګناه نه ده او دوی يوازې نه دي. هغوی ته ووایاست چې مرسته شتون لري او دوی هڅوي چې د مرستې غوښتنه وکړي. که دوی موافق وي تاسو کولای شئ چې پورته ليکل شوي سازمانونو سره اړيکه ونيسئ.

**دا پاڼه او ويډيو شريکه** کړئ ترڅو
دا نورو خلکو ته هم ورسيږي!

https://youtu.be/MDyzPoGDue0

دا معلوماتي پاڼه د هغه چا لپاره ډیزاین شوې ده چې د بل هیواد څخه هنګري ته کډوال شوي دي. تاسو ممکن دلته د امنیت په لټه کې، ذندې، زده کړې، یا د کورنۍ د غړو سره بیا یوځای کیدلو لپاره راغلي یاست.

په هنګری کې هرماشوم د هغوي د عمر، جنسي هویت، جنسي تمایل، ژبې، مذهب او یا دا چې له کوم ځای څخه راغلی دي، په نظر کې نیولو نه پرته مساوي حقوق لري.
تاسو حق لرئ چې د تاوتریخوالی د هر ډول څخه پرته د ژوند څخه خوند واخلئ. که چیرې تاسو ته څوک زیان رسوي یا تاسو ته د زیان رسولو او یا هم داسې یو کس ته د زیان رسولو ګواښ کوي چې تاسي یې پیژنئ، په یاد ولرئ چې تاسو د مرستې او ساتنې د ترلاسه کولو حق لرئ.

تاسو یواځې نه یاست! مرسته شتون لري!

# جنسي او د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی (SGBV)

## څه دی؟ SGBV

**جنسي او د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی (SGBV)** هغه عمل دی کوم چې د جنسي نورمونو او د قدرت غیر مساوي اړیکو پراساس د شخص د رضایت پرته ترسره کیږي. په دې کې هغه کړنې شاملې دي کوم چې د فزیکي، ذهني، جنسي، عاطفي، رواني یا اقتصادي زیان او زوروني سبب ګرځي. عاملین اکثره له ځواک، اجبار، فریب او یا غولولو نه کار اخلی. اکثره وخت SGBV نه پیژندل کیږي او په اړه یې راپور نه ورکول کیږي.



## د SGBV کوم ډولونه شتون لري؟

د SGBV ډیری ډولونه شتون لري. جنسي تاوتریخوالی او کورني تاوتریخوالی (چې کله نا کله یوشان بریښیږي) د خورا عام راپور شوي ډولونو څخه دي.



- جنسي تاوتریخوالی ، لږترلږه ، د جنسي تیری/ د جنسي تیری هڅه، جنسي ناوړه ګټه اخیستنه، جنسي ناوړه ګټه اخیستنه، او جنسي ځورونه شامل دي. دا زیات ډولونه لرلاي شي لکه د بدن ناغوښتی لمس کول، د خصوصي برخو زخمی کول، ناغوښتی جنسي تبصرې، د یو چا سره جنسي اړیکه نیولو ته اړ ایستل کیدل، د جنسي عملونو لیدو ته اړ ایستل کیدل او یا هم لوڅیدلو ته اړ ایستل کیدل. جنسي تاو تریخوالي **یواځې د جنسي اړیکو درلودل نه دي.** دا د زورزیاتي ، ناوړه ګټه اخیستنه او قدرت او یا دکنټرول څخه ناوړه ګټه اخیستنې پورې تړاؤ لری.

- کورنی تاوتریخوالی د هغه تاوتریخوالی تشریح کولو لپاره کارول کیږي چې په کور یا کورنۍ کې د ژوند د شریکانو تر مینځ او همدارنګه د کورنۍ د نورو غړو تر منځ ترسره کیږی. دا تېرې په ډیری بڼې خپلې کړی او کولای شي چې پکی فزیکي وهل او بریدونه، ګواښونه او ډارونی، ځورونه، سپکاوي او ځوروني، انزوا د پیسو او مالي کنټرول او جنسي تاوتریخوالي شامل دی. کورني تاوتریخوالی معمولاً د "اجباري" سلوک روان روش دی کوم چې د توهین او کنټرول لپاره طرحه شوی.

- د SGBV نوری بیلګی لکه: ګواښونه ، سپکاوی ، وهل ټکول؛ احساساتي ناوړه ګټه اخیستنه؛ واده کولو، ماشوم درلودل یا سقط ورکولو اړ ایستل کیدل؛ ځورول کیدل (د لیدلو، خبرو ، عملونو سره)؛ په شمول د ناوړه دودیزې کړنې (لکه د ښځینه تناسلي عضو معیوبول /پریکول FGM / C))، اجباري واده او یا د ماشوم/ کم عمر واده)، ناموسی جرمونه او تعصبی جرمونه ده چې ښځینه همجنسګرا، نارینه همجنسګرا، دوه جنسګرا، ترانسجنسیتي، بین الجنسیتي (LGBTI) په توګه پیژندل کیږی؛ او د پیسو، جنسي عملونو یا مزدوریو په بدل کې بل هیواد ته لیږدول.

## جنسي رضایت څه شی دی؟

جنسي رضایت په جنسي فعالیت کې د برخی اخیستلو لپاره د موافقی کول دي. جنسي فعالیت له رضایت پرته جنسي تاوتریخوالی ګڼل کیږي. جنسي رضایت تل په داوطلبانه او آزاده توګه ورکول کیږي. رضایت د هغه چا لخوا نشی ورکول کیدلی څوک چې نشه وی یا نشه کړل شوی وي او یا هم ستاسو په استازیتوب د بل چا لخوا رضایت نشی ورکول کیدلی. داسې قضیې شتون لري چې رضایت د فزیکي یا فکری معلولیت له امله ممکن نه وي. په یاد ولرئ: تاسو تل کولی شئ خپل فکر بدل کړئ، حتی که تاسو دمخه جنسي فعالیت سره موافقه هم کړې وی.

## د جنس، جنسیت او جنسیتی هویت تر منځ څه توپیر دی؟

د انسان جنس د زیږیدني پر وخت د اناتومي او بیولوژیکي عواملونو پر بنسټ ټاکل کیږي، پداسې حال کې چې د ټولني په باور خلک باید څنګه د بیولوژیکي جنس له مخی چلند وکړي جنسیت ګڼل کیږي (باید دوی څنګه جامې واغوندي او ځانونه معرفی کړي، د دوی ونډې او مسؤلیتونه باید څه وي، او داسې نور).
جنسیتي هویت د جنسیت په اړه د هر شخص لخوا په ژوره توګه محسوس شوي داخلي او انفرادي تجربو ته اشاره کوي. دا کیداي شي د زیږون په وخت کې تعین شوي جنسیت سره تړاو ولري او یا هم ونلري، په شمول د بدن شخصي احساس (لکه، که په آزاده توګه غوره شوی وی، د جسمي بڼې تعدیل یا فعالیت د طبی، جراحي یا نورو وسیلو له لاری) او د جندر نورې څرګندونې لکه جامې، ویناوې او آداب.

## څوک د LGBTI ټولنې سره تړاو لري؟

LGBTI يو غوره اصطلاح ده چې موخه يې پر بيولوژيکي جنسيت، جنسي اړيکو او د جنسيتي هويت تنوع ټينګار کول دي، او په ځانګړي ډول اما نه يواځې ښځينه همجنسګرا، نارينه همجنسګرا، دوه جنسګرا، ترانسجنسيتي، بين الجنسيتي يا هم خلکو ته کارول کيږي.

## چا سره پيښيدلی شي؟ SGBV

SGBV هر چا سره پيښيږيدلی شی او دا هيڅکله د قرباني غلطی نده. ښځې او سړي، نجونې او هلکان، لويان او ماشومان، هغه کسان چې د LGBTI په توګه پيژندل کيږی، ټول کيدی شي چې د SGBV قرباني شي. SGBV ده هيڅکله مؤجه کيدلی نشي.

## څوک د SGBV مرتکب کيدی شي؟

هر څوک کولای شي د SGBV کړنې ترسره کړي. مرتکب يو په بشپړ توګه پردی يا داسي څوک کيدی شي چې تاسو يې پيژنئ، لکه د کورنۍ غړي، يو ملګری يا يو رومانتيک ملګري.

## چيرته پيښيدلی شي؟ SGBV

SGBV په هر ځای کې پيښيدلی شي: ستاسو په هيواد کې، بل هيواد ته د سفر کولو په ترڅ کې، او په هغه هيواد کې چيرته چې تاسو اوسمهال ژوند کوئ. دا ممکن په کورونو او په عامه ځايونو کې لکه ښوونځي، کار، او د استوګنې په مرکزونو کې پيښ شي .

## آيا SGBVزما غلطی دی؟

SGBV هيڅکله هم د قرباني غلطی نده. د جندر نورمونه او په اړيکو کې نا برابروالی د SGBV اصلي لاملونه دي. مرتکب يې يوازينی کس دی ملامت دی.

## که بيرته می مبارزه ونکړه نو بيا؟

دا خورا عام دی چې د حملې پرمهال بيرته ګوزار ونکړئ ځکه چې تاسو شايد وډارېږئ، د نا اميدۍ او لومه کی احساس وکړئ او تاسو نه پوهيږئ چې د دې وضعيت څخه د وتلو لپاره څه وکړئ. دا د دې مانا نلري چې تاسو تاوتريخوالي ته رضايت لرئ.

## د SGBV عواقب څه دي؟

SGBV کولای شي جسماني او عاطفي عواقب ولري. د نورو عواقبو برسيره په جسماني توګه SGBV کولای شي د بدنی زيان، درد، ساري ناروغيو او د ښځو او نجونو د ناغوښتلی حامله . د SGBV عاطفي عواقبو کې روحی ضربه، خپسکه، بيخوبی، د سر درد، او ډيری مختلف احساسات لکه دغوسی، شرم، غم، ګناه او د ويری احساس. ټول احساسات معتبر دي، او هنګري د قربانيانو د ملاتړ لپاره مسلکي او محرم خدمتونه لري. تاسو يوازې نه ياست.

**په ياد ولرئ!**

- هرڅوک د جنسي او جنډر پر بنسټ تاوتريخوالي قربانی کيدلای شی
- د جنسي او جنډر پر بنسټ تاوتريخوالی هيڅکله هم د قرباني غلطي نه ده
- د جنسي او جنډر پر بنسټ تاوتريخوالي تل د منلو وړ نه دی
- تاسو کولائ شی چې د مرستي غوښتنه وکړئ



# موجوده خدمتونه

## که چیری زه یا کوم څوک چی زه یې پیژنم SGBV تجربه کړي وی او یا یې شاهد وی څه وکړم؟

که تاسو د SGBV تجربه کړی وی، شاهد یې وې یا شک لرئ نو تاسو کولای شئ د کورنۍ غړي، خپلوان یا کوم بل بالغ کس ته چې تاسو پرې باور لرئ ووایاست.
نور خلک هم دي چې کولای شي تاسو سره په محرمانه ډول مرسته وکړي، لکه ښوونکي، ټولنیز کارکوونکي، د پولیس افسران او ډاکټران.
که تاسو دمخه د یوې اداري سره په تماس کې یاست چې د مهاجرینو او کډوالو نه ملاتړ کوي ، نو پدې برخه کې هم د دوی د مرستې غوښتنی ته ډډه مه کوئ.
جنسي او جنسیتي تاوتریخوالی جرم دئ. که تاسو د SGBV تجربه کوئ یا د هغه د کوم ډول شاهد یاست نو تاسو کولای شئ په لاندې شمیرو د هنګري پولیسو سره اړیکه ونیسئ:

د بیړنۍ اړیکی شمیره : 112 یا 107
د جرم د مخنیوی لپاره: 111 ; 555 3680 +
د اس.ام.اس لیکه د هغه خلکو لپاره چې غږ نه اوری 0107 900 3620 +

## که زه حقوقي مرستو ته اړتیا ولرم؟

تاسو کولای شئ د وړیا حقوقي مرستې لپاره **د هنګري د هلسینکي د کمیټې (Magyar Helsinki Bizottság)** سره اړیکه ونیسئ.
HHC یوغیر دولتي د بشري حقونو سازمان دی چې د قانوني او عامه فعالیتونو له لارې د انساني وقار ساتنه کوی. دوی پناه غوښتونکو، کډوالو، بندیانو او د قانون پلي کوونکو لخوا د تاوتریخوالی قربانیانو ته وړیا مرستې چمتو کوي.



+ 361 321 4323, + 361 321 4327, + 361 321 4141
helsinki@helsinki.hu
www.helsinki.hu/en
facebook.com/helsinkibizottsag

خدمات په انګلیسي کې موجود دي. د اړتیا په صورت کې مختلف ژبو ته ترجمه هم شتون لري.



## نور کوم خدمتونه شتون لري؟

تاسو په لاندې لسټ کې د نورو اړوند خدماتو وړاندې کونکي موندلی شئ:

### منیدیک - د کډوالو لپاره د مهاجرینو ټولنه

منیدیک د ټولنیز، تعلیمي او فرهنګي پروګرامونو له لارې کډوالو او مهاجرینو سره په ټولنیز ادغام کې مرسته کوي.

+ 361 322 1502
menedek@menedek.hu
www.menedek.hu/en
facebook.com/menedekegyesulet

خدمات په انګلیسي او په مختلفو ژبو موجود دي.

### HÁTTÉR ټولنه

Háttér ټولنه په هنګری کې ترټولو ستره او تر ټولو د اوږدی مودی څخه راپدیخوا کار کوونکي مؤسسه ده چې ښځینه همجنسګرا، نارینه همجنسګرا، دوه جنسګرا، ترانسجنسیتي، بین الجنسیتي یا هم خنثی (LGBTQI) خلکو ته کار کوی. دوی د LGBTQI خلکو څخه ملاتړلپاره خدمات وړاندی کوي، د LGBTQI خلکو د بشري حقونو څخه ساتنه کوي او د دوی په وړاندې د تبعیضی چلند نه مخنیوی کوی.

+ 361 329 2670, + 361 238 0046
hatter@hatter.hu
www.en.hatter.hu
facebook.com/HatterTarsasag

د معلوماتو او مشورې ورکولو شمیره
(هره ورځ له 18:00 بجو څخه تر 23:00 بجو پورې)

د اړیکی شمېره 13737 (وړیا)

+ 361 329 3380
سکایپ: segelyvonal

چټ: http://chat.hatter.hu
(دوشنبه او پنجشنبه له 18:00 بجو څخه تر 23:00 بجو پورې)
lelkisegely@hatter.hu
hotline@hatter.hu

د حقوقي مرستو خدمات
(د اونۍ په ورځو کې 8:00-20:00)
+ 361 6333 455
legalaid@hatter.hu

د اړتیا په صورت کې خدمات په انګلیسی ژبه هم شتون لري.

### NANE د ښځو د حقونو ټولنه

NANE یوغیر دولتی سازمان دی چې موخه یې د ښځو او ماشومانو پر وړاندې تاوتریخوالی سره مبارزه کول دي. دوی د مرستندویه کرښې له لارې مرستې چمتو کوي.

لطفا د بریښنالیک او یا هم د فیسبوک پیغام له لاری د دوی په انګلیسی خبرې کوونکی کارکوونکو په اړه پوښتنه وکړئ.

www.nane.hu/en / info@nane.hu
facebook.com/NANEegyesulet
د کورنیو او جنسي تیري قربانیانو لپاره د مرستې کرښه
+ 3680 505 101
دوشنبه، سه شنبه، پنجشنبه، جمعه:
22:00-18:00
چهارشنبه: 14:00-12:00

### KÉK VONAL
### د ماشومانو د بحران د بنسټ

د Kék Vonal لومړنۍ دنده د ماشومانو او ځوانانو غږ اوریدل دي او له هغه چا سره مرسته کول چې مرستی ته اړتیا لری. هغه مشران چې د ماشوم خوندیتوب او هوساینې په اړه اندیښمن دي کولی شي د مسلکي مشورې لپاره هغوی سره اړیکه ونیسي.

www.kek-vonal.hu/index.php/en
د ماشومانو لپاره مرستندویه کرښه:
116 111 (وړیا، 24-0)

د هغه ماشومانو لپاره چې ورڅخه ناوړه ګټه اخیستل شوي او د ورک شوي ماشومانو لپاره د اړیکی شمېره (او د لویانو لپاره چې د ماشوم په اړه اندیښمن د :
116 000 (وړیا، 0-24)

116000@kek-vonal.hu

د اړتیا په صورت کې خدمات په انګلیسي ژبه هم موجود دي. مهرباني وکړئ دوی سره د کاری ساعتونو په وخت کې په 1029 354 361+شمیره اړیکه ونیسئ ، یا دوی ته په info@kek-vonal.hu ایمیل ولیکئ.

